PROPERTY OF ACKU

هفته نامه

اتحاد اسلامي

بیانگرآرمان اتحاد اسلامي افغانستان

پرله پسی گڼه « ۲۰۷ » اوم کال « ۹ » گڼه دوشنبه د ۱۳۷۰ هـ ق کال د ثور « ۳۰ » د ۱۴۱۱ هـ ق کال د ذیقعدی « ۵ » د ۱۹۹۱ میلادی کال دمی « ۲۰ »

مجاهدینو د بلخ ولایت د شولگري په ولسوالي کي د کابل رژیم د قواوو څلور پوستي فتح کړيدي

په پیښوړکی د مجاهدینو خبرځای د بلخ ولایت نه (میډیا) ته رپوټ ورکړچي د شولگري ولسوالي مجاهدینو دوه راکټي بریدونو په ترځ کی د بلخ ولایت د (چشمه شفا) تنگی په کمربندي پوستوباندي دمی په څلورمه اوپنځمه نیټه بریدونوکښي دلاري ښارنی څلور پوستي فتح کړی اودرژیم قواوته ئي سخت ځاني اومالي زیان اړولی دی .

ربوټ زیاتوی د رژیم پاتي ملیشه نوروپوستوته په تیښته وتښتیدل او د مجاهدینو څخه دوه تنه شهیدان او ٦ نور ټپیان شوی او متقابله ډزې دوام لری .

دغه راز د بلخ ولایت نه رپوټ ورکوي چي مجاهدینو د یوی گوریلائي حملی په ترځ کي د دولت آباد ولسوالي د (باغ ذخیری) په کمربندي پوستو د می په لمړی نیټه حمله وکړه چي یکی درژیم (۵) تنه عسکر وژل شوی ، دوه ټپیان اودري تنه نورئي د یوی ماشینداری ، پنځه کلاشینکوفونو اویوی اندازې مهماتوسره ژوندی نیولی دی .

رپوټ وائي په دی حمله کښي مجاهدینوروغ رمټ سنگرونوته واپس شویدی .

په یویل رپوټ کی زیاته شویده چي د مجاهدینو د عمومي اسلامي عفوی په

ولسوالي خواجه غار بدست مجاهدین فتح گردید

ولسوالي خواجه غار که رژیم آنجا رااخیراً بحیث مرکز ولایت تخار اعلان کرده است همزمان باسقوط غند (۵٤۳) مربوط فرقه « (۵۵) که ازطرف افراد سازمان کمونیست « سازا » اداره مي شد ، مرکز آن ، روز (۱۳) مـي بدست مجاهدین فتح گردید . همچنان دریي این پیروزي چندین غند وکندك ملیشه ها بشمول غند مشهور ملیشه بنام « احمد » بدست مجاهدین افتاده وتلاش براي تسخیر فرقه (۵۵) ادامه دارد .

راپور حاکیست جنگ بین مجاهدین وقواي رژیم درسرك کندز - بغلان کشیده شده ومجاهدین سعي دارند ، سرك مذکور راکه حیثیت یگانه راه اکمالاتي رژیم رادارد ، مسدودنمایند .

آخرین گزارشهاي واصله حاکیست که (۱۰۰) عراده تانك ووسایط زرهي وبیش از (۵۰۰) عراده وسایط مختلف نقلیه به غنیمت مجاهدین درآمده است .

د بیطرفانو په لاس د اسلامی نظام جوړیدو هیله داسی مثال لري لکه د هندو له کورنه د قرآن مجید راوتل

دافغانستان د اسلامی اتحاد امیر محترم استاد سیاف د تیری جمعي په خطبه کښي وویل :

گرانو ورونو ! دا د اسلام فیصله ده اودا ددین په قلم باندي راکښل شوي کرښي دي ، په ټوله نړۍ کي دوه برنامې اودوه خطونه موجود دي ، دریم خط نشته او دغهشان دوه لاري دي ، دریمه لاره نشته ، یوه درحمان لاره اویله د شیطان ، یوه د جنت لاره اویله د دوزخ یوه د الله برنامه ده او بله د شیطان برنامه ده ، کومه برنامه اودین چي دالله دی ، دهغي نوم اسلام دی .

د اسلام په نوم آدم « ع » دعوت چلولی دی ، د اسلام په نوم نوح « ع » دعوت چلولی او ابراهیم « ع » دعوت چلولی دی . نورو ټولو پیغمبرانو که رسولان دي که انبیاء ، د اسلام په نوم یې دعوت چلولی او وروستي پیغمبرچي د اسلام په نوم یې دعوت چلولی او په هغه باندي رسالت تکمیل اوبشپړشوی ، هغه خاتم الانبیا محمد صلی الله علیه وسلم دی .

غیر د اسلام نه بل هردین باطل دئ اودهغي نوم جاهلیت دئ ، تاسویه تاریخ لوستئ وي چي د جاهلیت په زمانه کي خلکو خپلي لوښي ژوندی ښخولي اوخلکوبتانوته سجده کوله . ددي خبري په اوریدوسره به د هریو په ذهن کي داگرځي چي جاهلیت هغه وخت ته وائي چي د پیغمبرصلی الله علیه وسلم نه پخوا ؤ ، اوجاهلیت هغه نظام اوهغوعادتونو ته وائي چي په هغه وخت کي حاکم ؤ ، دا ذهنیت باید بدل کړئ .

جاهلیت هري هغي زماني ته وائي چي هلته د الله جل جلاله حکم نه وي جاري ، جاهلیت هرهغه نظام ته وائي چي هغه د الله جل جلاله شریعت ته تابع نه وي .

دجاهلیت دورنه دی ختم شوی اوس هم د جاهلیت دور اونظامونه روان دي اودجاهلیت په بناء حکومتونه ولاړدي . دا ټول حکومتونه کوم چي داسلام په بناء ولاړنه دي جاهلي حکومتونه دی ، داټول جوامع او ټول ولسونه کوم چي الله ته او اسلام ته غاړه نه ږدي هغه جاهلي ولسونه دي ، هغه د ابوجهل همسنگري اود ابوجهل د لاري ملگري دي اوهغه جاهلیت همغسي روان دی . اوس یې هم مونږ ددنیا په هرگوټ کښي گورو همافه ابوجهلان اوهمافه ملگري یې روان دي اود اسلام پرخلاف د هغوي مبارزه روانه ده .

نو اسلام په یوه لور او جاهلیت په بل لوره دوی په مینځ کښې دا کشمکش روان دئ ولوکه د جاهلیت نومونه سره بیل وي ، یو وخت به د جاهلیت نوم دیموکراسی ، بل وخت به د جاهلیت نوم سوسیالیزم ، بل وخت به د جاهلیت نوم کمونیزم اوبل وخت به د جاهلیت نوم بودیزم او بل وخت به د جاهلیت نوم اتش پرستي وي ، خو ټول د شیطان څخه زیږیدلي نظامونه او حکومتونه دي . اوهرشئ چي د اسلام شانه واقع او پروت وي هغه د جاهلیت د لاس شیان دي .

ورونو ! داخبره مي ځکه تاسي ته یاده کړه چي ستاسو دا جهاد د اسلام اود اسلامی نظام د قایمولو لپاره روان دی ، که هرڅوك تاسوته غیر له اسلامه بل نوم یادوي هغه د شیطان غلام ، د شیطان په خدمت کښي اود جاهلیت د زماني د خلکوپیرو اودهغوي په سنگرکښي پروت دی اود جاهلیت په لور دعوت چلوي .

داخبره باید ټولونه جوته او معلومه وي ، کوم تلاشونه او هڅي چي نن رواني دي چي د اسلام اود اسلامی نظام په عوض دي هلته بې طرفه او مختلط حکومتونه جوړشي ، هلته دي د کفر سره ائتلافي حکومتونه جوړشي داحکومتونه به ټول د جاهلیت د زماني رسمونه وي ، ټوله به د ابوجهل د همسنگرانو کامیابي وي اودا ټول به د اسلام پرخلاف د سنگرونو تقویه کول وي .

اسلام یو اسلام دی ، په اسلام کي بدلون نشته د الله نظام یودی ، د الله لاره یوه ده ، دجنت لاره یوه ده هغه معلومه ده ، نوم یې اسلام دی او په دې نوم کي بدلون نشته اوهرڅوك چي غیرد اسلامه بل نظام غواړي هغه د شیطان په ملگرو کي حساب دی اود شیطان په حساب باندي کارکوي .

ورونو ! داخبره مي ډیره تکرارکړي ده شاید تاسویه ووائی چي په هرمجلس کي داخبره یادوي خودا زمونږ ددنیا او آخرت خبره ده دا زمونږ د شپاړس لکو شهیدانو دوینو قیمت دی خلك باید همیشه په « دې خبره پښکاروکړي ، خطیبان ، علماء او ددین پوهان باید په دې خبره ښکار وکړي ، د اسلام اوکفر ترمنځ بې طرفي کفردی ، څوك چي وائي چي زه نه مجاهدینوسره یم ، نه د کابل ملحدرژیم سره ، مونږ په دي جنگ کي اودافغانستان په قضیه کښي بې طرفه یو هغه په خپله خوله اعلان کوي چي زه کافریم ، ځکه له دووصفونو څخه پرته دریم صف نشته ، یو د اسلام صف اوبل د کفر صف دی ، څوك چي ووائي چي زه له

رهبران جمعیت اسلامي ، جبهه نجات ملي وحرکت انقلاب اسلامي افغانستان وارد تهران شده است

رادیوبی - بی - سی

درهفته جاری بنابردعوت مقامات ایرانی سه نفر ازرهبران مجاهدین هریك استاد ربانی رهبرجمعیت اسلامی ، صبغت الله مجددی رهبرنجات ملی و مولوی محمد نبی محمدی رهبر حرکت انقلاب اسلامی افغانستان وارد تهران شده اند ، و قراراست که سید احمد گیلانی رهبرمحاذ ملی از قطر به تهران وارد شود تابه دیگر رهبران مذاکرات خودرا با ایرانیها آغاز نمایند .

د هرات ولایت په (۱۷) فرقه باندي د مجاهدینو برید کي د رژیم د مهماتو یوه ډیپو د اورلمبه شویده او (٤٠) تنه کمونیستان یکی وژل شوي

دهرات ولایت نـه پـه رارسـیدلـو رپـوټونوکښي ویلي شـویدي چي مجاهدینو دمي دمیاشتي په ۹ نیټه دهرات دښار په ۱۷ فرقي باندي ددرندو وسلو یو برید وکړ ، چي په نتیجه کي درژیم دمهماتو یو ډیپو سوځیدلي او بیخي له مینځه تللي دي .

رپوټ وائي چي په دغه برید کي درژیم (٤٠) تنه عسکر او منصبداران هم وژل شوي دي .

په رپوټ کښي زیاته شویده چي په همدي نیټه کښي مجاهدینو بویل برید دفرقي په جنوبي برخه کي درژیم د پلویانو په مرکز ونو کړي چي دهغي په اثر کښ شمیر افراد مړه او ټپیان شوي دي

دریوټ مطابق درژیم قـواوي دغـج اخیستلو په توم دگلري ولسوالي مربوط دمیوشان کلي داوراگان توغندي ترېرید لاندي ونیول چي په نتیجه کښي دسیمي داوسیدونکو خلکو یوشمیر وداني ړنگي او یوشمیر خلك شهیدان او ټپیان شوي دي .

دملگرو ملتونو پنځه سوه کسیزه ساتونکي ډله برون په عراق کښي ځاي په ځاي شوه

بغداد

دملگرو ملتونو دپنځه سوه ساتونکو اولـه جوپـه پـرون پـه عراق کـښـي ځـاي پرځاي شوه چي عراق ته دراستنیدونکو عراقیانو حفاظت وکړي ، په عراق کښي دملگرو ملتونو استازي وائي چي ملگرو ملتو او له ډله ساتونکي به دردهوك ښارته لاړشي چي کـردي مـهـاجـر وطـن تـه ستنیدوته تشویق کړي ، دملگرو ملتونو استازي تـاکـیـد وکـړ چي دغـه ساتـونکي دملـگـرو ملتـونـوپـولـیـسـي قـوه نـده او دتحقیقاتو صلاحیت نلري ، دي وائي دوي

د خرطوم د کنفرانس په اړوند د اتحاد اسلامی د سیاسی کمیټی د رئیس څرگندوني

پدي وروستیو ورځوکي څینو عربي او لویدځو مطبوعاتو دسوډان په مرکز « خرطوم » کي (دنړیوال ولسـي عربي او اسلامي) کنفرانس دفیصلو او پریکړه لیك په هکله متعددي لیکني کړي ، او دي ټکي ته ئي اشاره کړي چي گوندي دافغانستـان دمجاهدینو رسمي هیئت دپریکړه لیك له ټولو مـوادو سره خپل رضایت ښودلي دي .

بنـا ً دافغـانـسـتـان دا سـلامـي اتحـاد دسیاسي کمیټي رئیس ورور محمد یاسر څوك چي دالحـاد اسـلامـي ددري گـوني هیئت مشرووه دالبنیان خبري آژانس سره دخپلو لنډو څرگندونو په ترځ کي په صراحت سره ددغـسـي خبـري رپـوټـونـو دصحت تردید وکړ او وویل چي (دافغـانـسـتـان داسـلامـي اتحـاد کورني او بهرنـي پـالیـسـي کوم چي دخداي پرمځکه دخداي دحاکمیت له اصل څخه سرچینه اخلي هیڅکله به هم دهیڅ ډول سیاسي فشارونو ، بدلونونو او مصالحو پخاطر دخپل فکر اومبداء په سرتنازل ته حاضر نشي ، دوي زیـاتـه کـړه : مونږ ددغـه کنفراس پـه تـالارکـښي او بیـا وروسـتـه دځینو وله ایزو ارتباطي وسایلو او غونډو له لاري دکنفرانس زیات شمیر پریکړي دخپلو ثابتو اصولو مخالفي اعلان کړي اوس هم په همدغه درېځ ټینگ ولاړیو . دسیاسي کمیټي رئیـ دخپلو څرگندونو په ادامه وویل چي اسلام اوغربي تشنلزم پخپل منبځ کي هیڅ نوع اړیکي او ارتباط نلري ، او دفضیلت معیار یوازي او یوازي تقوي او پرهیز گاري ده .

دوي په پای کي زیاته کړه : مونږ ددنیا په گوټ گوټ کي دمسلمانانو په هر درد اوخوښي کي ځان شریك گڼو ، او

په جنوبي کوریا کښ دري کسانو ځانونوته اوروواچوه

امریکا غږ دثور ۲۹

په جنوبي کـوریـاکـښـي دري تـورو کسانو دهغي مظاهري په پسلوي چي دجمعي په ورځ دزرگونـو خلکـو لخوا دنوتایغو دحکومت په ضد په درست ملك کښي شوي وه ځانونو ته اور واچوه .

دهغو مظاهره کوونکو په مرگ باندي چي دري هفتي وړاندي پولیسو په وهلو مړه کړي ؤ تراوسه ۷ کسانو ځانونو ته اور اچولي دي . پنځه تنه یې مړه شوي چي له دي جملي نه یوتن پرون مړ شوي .

په عین وقت کښـي دپـولیسـو او مظاهرچیانو ترمینځه په لارو او کوڅو کښي نښتي وشوي پولیسو په سوبل کښـي دشاگردانو دخورولولپاره اوښکي بهوونکي غاز استعمال کړي چي دوژل شوي محصل دجنازي په بدرگه روان ؤ .

هزاران تن ازمردم بنگله دیش نسبت به حضور عساکر امریکایی در آنشکور دست به تظاهرات زدند

داکا - ۲۸ ثور

داکاپایتخت بنگله دیش روزهاي جمعه وشنبه گذشته شاهد مظاهرات مردم دراعتراض به حضور عساکر امریکائي درانیکشوربود .

گزارشهاي رسیده از داکا حاکیست صدها تن ازمردم بنگله دیش بعد ازظهر روزجمعه بابرپائي مظاهرات درخیابانهاي شهر داکا خواستار خروج فوري قواي امریکایي ازخاك بنگله دیش شدند .

دراین مظاهرات متعرضین باحمل پلاکاردهاي که به روي آنها شعارهاي مرگ برامپریالیزم امریکا نوشته شده بود خشم ونفرت خود را ازحضورقواي نظامي امریکا درکشورشان ابراز داشتند بنابراین گزارش احزاب وتنظیم هاي مختلف بنگله دیش نیز باصدور بیانیه اي جداگانه نگراني خودرا نسبت به حضور عساکر امریکایي درانیکشور ابرازداشته اند .

د غزني ولایت په هوایي ډگر او بالاحصار باندي د مجاهدینو بریالي عملیات

دغزني مجاهدینو ددغه ولایت په هوائي ډگر او با لاحصار اوتورو شاوخوانظامی تاسیساتوباندي د می په (۲) نیټه د لری ویشتونکوتوپونوپواسطه حمله وکړه ، چي پکي د هوائي ډگر د وسلو یوه ډیپو د ترافیکو ودانۍ اود میدان ترمینل ، تباه شوی اوزیات ځاني اومالي تاوان رژیم ته اوریدلی دی .

دخبرمطابق دتوموړو پرلپسی بریدونو په نتیجه کي د کابل رژیم الوتکو د کابل او کندهار هوائي ډگرونو څخه د غزني په هوائي ډگر باندي نښتي کنیپاستلای .

خبرځای زیاتوی د بلی خوا مجاهدینو د غزني د شمال لویدیځ خوا څخه د غزني

تاسیس یك حرکت جدید اسلامي دراندونیزیا

جاکارتا - ۲۷ ثور

دراندونیزیا تحت نام انجمن روشنفکران مسلمان یك حرکت تازه ، اسلامي بوجود آمده است بقول جریده ، خبري « کرسنت انترنشنل » منتشره ، لندن وظیفه انجمن تازه تأسیس ایجاد وحدت میان مسلمانان اندونیزیا میباشد . ناظرین اوضاع عقیده دارند هدف تأسیس این انجمن ضعیف ساختن تاثیرات سازمان هاي عنعنوي اسلامي وآوردن تحرك میان مسلمانان براي انتخاب مجدد سوهارتو رئیس جمهور سابق اینکشور میباشد .

یکتن ازمسلمانان آلمان بهترین نشان خدمات حکومت مصر را بدست آورد

رادیو المان - ۲۷ ثور

احمد فوندین فر یکتن ازمسلمانان الماني که درشهر مونش جمهوریت اتحادي آلمان بسر میبرد به نسبت تالیفات زیادش

مجاهدینو د سمنگان په ولایت کي د بیلابیلو بریدونو په ترځ کي د کابل د کمونست رژیم ۲۸ تنه عسکر اودوه صاحب منصب وژلي او ۲۵ تنه نوریي ژوندي نیولي دي

دسمنگان له ولایت نه (میډیا) ته درسیدلی یو خبرله مخې مجاهدینو د می د میاشتی له (۹) څخه تر (۱۱) نیټی پوری د کابل حیرتان د لوئی لاری په اوږدوکی د کوتل رباطك پرپوستو باندي ددرندو وسلو عملیات ترسره کړل .

خبروائی چي ددغو بریدونو په نتیجه کي د کابل حیرتان لویه لاره د کوتل رباطك نه د ایبك ترښاره پوري د ترافیکو پرمخ تړلي ده ، یوه پوسته فتح ۲۸ تنه عسکر د دوه تنو منصبدارانو په شمول مړه اویو زیات شمیرنورئي ټپیان شویدي .

خبرځای زیاتوی د می په ۱۲ نیټه اوه تنه د خاد غري د تورن « مؤمن » په مشرۍ مجاهدینو ته چي د سمنگان دمرکز په دوه کیلومتری کي موقعیت لري ځانونه تسلیم کړي دي .

دغه رازدیویل خبر له مخې مجاهدینو د بغلان په ولایت کی د می په ۱۱ نیټه تاله

په پغمان کښې د کابل رژیم د امنیتي کمربند د یوې پوستې ټول افـراد مجاهدینو ته تسلیم شوی دی

دمیډیا د خبری آژانس د رپوټ له مخې مجاهدینو ته د می د میاشتی په ۱۲ نیټه د پغمان په ولسوالۍ د پشه دری په سیمه یوه امنیتي پوسته چي مهمه اوستراتیژیکه ده د سلاح اومهماتو اوسانونکوسره مجاهدینوته تسلیم شوی ده .

په رپوټ کی ویل شوی دی چي درژیم د قواو لخوا په پغمان کی د مجاهدینوپه مرکزونوباندی ددرندو وسلو بریدونه دوام لری ، خو تراوسه مجاهدینوته کوم زیان نه دی اوریدلی .

دریوټ مطابق په نومړی نیټه په ارغندی اوقلعه حیدر په سیمو کی دمجاهدینو په یوبرید کی درژیم په پوستوکی (۱۲) تنه عسکر وژل شوی او (۳) تنه نور ټپیان شوی دی .

سیل یکبار دیگر مناطق شما لشرقي بنگله دیش را در برگرفت

سیل روز جمعه باردیگر مناطق شمال شرقي بنگله دیش رادربرگرفت . بگزارش خبرگزاري جمهوري اسلامي دراین حادثه حدود ۱۲۰ تن کشته وزیانهاي مالي فراواني ببار آورده است .

قواي اردو وگروهاي امداد براي نجات ٤٠ هزار تن که در قریه هاي سیل زده گرفتارشده اند اعزام شدند .

بگزارش آژانس خبري آلمان سیل روز جمعه درشمال شرقي بنگله دیش همچنین ٤٠ هزار هکتاراراضي مزروعي رامنهدم نمود .

اضافه ازبیست خانواده دیگر درگندم قول ولایت بدخشان به خاك یکسان گردید

طبق راپورهای که توسط مخابره به پشاوروواصل گردیده ، حاکی ازآنست که به اثر ریزش کوه اضافه ازبیست خانواردیگر زیرخاك گردید ، قبلاً واقعه، مشابهي به تاریخ اول ثوردرین منطقه رخ داده بود که بیش ازدوصد خانه درکام زمین فرورفت و خسارات جاني ومالي فراواني بجاگذاشت ، حادثه دومی که بتاریخ ١٤ ثور صورت پذیرفت برعلاوه، شهداء قبلی به تعداد پنجاه نفرکه بخاطر بیرون ساختن شهداء رفته بودند ، نیز دراثرریزش کوه جان خودرا ازدست دادند وبه این ترتیب تعداد قربانیان درین قریه به

هفته نامه

اتحاد اسلامی

بیانگر آرمان اتحاد اسلامی افغانستان
دامتیاز خاوند : دافغانستان اسلامي اتحاد
دتأسیس نیټه : ۱۳٦٤ کال دعقرب میاشت
خپروونکي اداره : ددعوت وارشاد ریاست فرهنگي څانگه

سرمقاله

د جهاد ستر هدف

په یوه ټولنه او یو هیواد کښې د فتنو او فسادونو طوفان هغه وخت راولاړیږي چې حاکمه طبقه نه یوازې دهغو د مخنیوي لپاره کارنکوي بلکې پخپله ورته زمینه مساعدوي او لاره ورته اواروي ، پدې صورت کښې حکومت پخپله یوه ستره فتنه وي اود هراړخیزو فسادونو منبع . د خدای له لارې نه په خلک د شیطان لارې ته رااړول کیږي ، دحق او عدل داعیه سرپوړته کولوته نه پریښودل کیږي ، د ظالمانو او فاسقانو ملاتړ کیږي ، د غوره اخلاقو او اجتماعي عدالت پرخلاف قوانین نافذیږي ، په ټولنه کښې د نفاق اوتفرقې تخم شیندل کیږي ، د ظالمانو په لاس د مظلومانو وینې توئیږي او په نتیجه کښې عمومي بد امني مینځ ته راځي چې نه بیا د چاسرپه امن وي اونه مال .

پدغسې حالاتواوشرایطو کښې اسلام په جهاد او قتال باندې په امرکولوسره غواړي ترټولو لومړی د فسادونو اوفتنوجرړه غوڅه کړي یعنې نامسلمان اوظالم حکومت له مینځه یوسي اوپرځای یې هغه عادلانه نظام برقرار کړي چې دهغه بنسټ له خدای نه دیرې اوډ خدای له خوا په نازل شویو همیشنیو اصولو باندې کیښودل شي چې د شخصي یا طبقاتي یا قومي اغراضو پرځای د خدای د مخلوق په ګټه خدمت وکړي اوهدف یې د نیکیو تعمیم اود بدیو مخنیوی وي او عمال یې هغه کسان وي چې امربالمعروف اونهی عن المنکر د خپل ژوند یوازنی نصب العین ګڼي اوحکومت ددې لپاره نه غواړي چه ځانته خدمت وکړي بلکې ددې لپاره یې غواړي چې انسانیت ته خدمت وکړي اود خدای رضا ترلاسه کړي .

د قرآن مجید د مطالعې په دوران کښې انسان ته په مکرر ډول دا مطلب په نظر ورځي چې د ظالمانو او جابرانو له اطاعت څخه منع کړې شویدی او سپارښتنه شویده چې د باطل د پیروی اوجبر اواستکبار په اطاعت سره ځان په هلاکت کښې ونه غورځوی ، چیرته ویل شویدي چې :

« دهغومتجاوزینواوله حده تیریدونکو اطاعت مکوئ چې په ځمکه کښې فساد خوروی او اصلاح نکوی »

چیرته ویل شویدي چې :

« دهغه چا اطاعت مکوه چې موږ دهغه زړه له خپل یادنه غافل کړیدی اودخپلو نفسي خواهشاتو پیروي کوي اوامریې پر افراط باندې ولاړدی »

چیرته د یوقوم د هلاکت وجه دا ښودله شویده چې :

« هغوی دهرظالم اودحق ددښمن پیروی وکړه نو پرهغوی باندې پدې دنیاکښې هم لعنت نازل شو اودقیامت په ورځ به هم وریاندې لعنت وي »

چیرته په ځرګند ډول ښودله شویده چې یو هیواد اویوه سیمه هغه وخت هلاکیږي چې دهغې د دولت او حکومت واګې د فاسقانو لاس ته ورشي :

« کله چې موږ دیوې سیمې تباه کول وغواړونو دهغې سیمې بډایانو او شتمنو خلکوته د فرمانبرداری او خیرحکم کوو اوهغوی د نا فرماني اوفسق لاره غوره کوي چې په نتیجه کښې هغه سیمه د عذاب دفیصلې وړګرځي اوموږ بیا هغه د سختې تباهی سره مخامخ کوو »

هو، په ټولنیز ژوند کښې چې هرڅومره عوامل د ټولنې پراخلاقو اوتمدن باندې اغیزه کوي ترهغوټولو قوي اومؤثر عامل حکومت دی ، که د حکومت نظام غلط ؤ اود چاروواګې دداسې خلکو په لاس کښې وي چې د خدای د دین د سرلوړۍ اودخدای د مخلوق د هوساینې په لاره کښې دهلوځلو کولو پرځای یې خپلو شخصي ګټواومفادوته پاملرنه زیاته وي اودخدمت الناس پرځای د فساد فی الناس لپاره کارکوي نوبیا پدغسې حالاتواوشرایطو کښې ګرانه ده چې اخلاقي ښېګڼې وده ومومي ، اصلاحي پروګرامونه څه نتیجه ورکړي اویاد خیر د چارو د تعمیم لپاره زمینه برابره شي ځکه چې حکومت د فاسقانو اوبدکارانو په لاس کښې وي اوبدکاران د بدیو د تعمیم اوپراختیا لپاره کارکوي ، سربیره پردې چې پخپله فاسد اوبداخلاقه وي دنورو د بې لارې کولو اوفاسدولو لپاره هم فعالیت کوي .

ددې په عکس که د حکومت بنسټ پریوسم اوعادلانه قانون باندې ولاړوي یعنې د الله د نازل کړي نجات ښوونکي دین پراصولو باندې چې سرتریایه د انسانانو د خیر اوښېګڼې مصدر اومنبع ده اودحکومت عمال اوکارکوونکي هم صالح اوپرهیزګارخلک وي چې خپل سیاسي قوت اوقدرت د ځان اودخپلو انډیوالانو د شخصي غرضونواوګټو لپاره نه بلکې د عام رعیت اودخدای د بیوزلو بندګانو د مصالحو په لارکښې په کاراچوي نوپه هغه صورت کښې یقیني خبره ده چې د ژوند په ټولو مربوطو څانګوکښې به اصلاحات راځي اونه یوازې د فساد مخنیوی به کیږي بلکې د فساد جرړې اوریښې به له مینځه ځي او په هیڅ مفسد اوفاسق کښې به د فسق اوفساد د خپرولو جرئت پاتې نشي په بل عبارت د فسادونود ختمیدو اوله مینځه تګ لپاره اسلامي حکومت یوضروری کاردی ، اودا ضرورت په قرآن مجید کښې په بیلابیلو اسلوبونوسره تائید شویدی ، د نمونې په ډول به د سوره بنی اسرائیل (۸۰) ایت راواخلو :

« ای پیغمبره ! دعاوکړه چې ای پروردګاره ، ته چې ماکوم ځای ته بیایې له ریښتینولی سره مې هلته داخل کړه اوله کوم ځای نه چې ماباسې له ریښتینولی سره مې وباسه اوله خپل لورې نه یو قدرت زما مرستندوی وګرځوه »

یعنې یاخو پخپله ماته قدرت راکړه اویاکوم حکومت زما مرستندوی وګرځوه چې دنړۍ ددې فاسدې وضعې په اصلاح کښې د هغه له قدرت نه استفاده وکړم ، د

ص ۳

حقپالونکي بیبیانې

ترجمه اوتلخیص « کشاف »

حضرت ام الفضل لبابة الکبری رضی الله تعالی عنها

دیدو په غزا (د دویم هجری کال دروضان المبارك په میاشت) کښې چې کله د قریشو د ماتې اورسوائی خبر مکې معظمې ته ورسیده نوهلته کوراکور د ماتم اووېر ټغروغوړیده . د بدمرغه ابولهب خوداحالت ؤ چې له ډیره غمه لیونی ؤ ، د جنګ د حالاتو څخه د ځان خبرولو له پاره په سکیدو سکیدو د خپل وروړ عباس بن عبدالمطلب کورته ورغئ چې د مشرکانو په ملګرتیا کښې د مسلمانانو پرضد جنګ ته تللی ؤ اوپه جنګ کښې د ماتې خوړلو نه وروسته د مسلمانانو په لاس بندی شوی ؤ

هلته د هغه د غلام ابورافع ترڅنګ کښیناست چې هغه دغشو په جوړولو بوخت ؤ . په دې وخت کښې یوچاوویل : « هغه دئ ابوسفیان بن حارث (دپیغمبر صلی الله علیه وسلم د تره زوی اود ابولهب وراره چې لاتردې وخته په اسلام نه ؤ مشرف شوی) تازه له جنګه راغی . له هغه نه باید د بدر د حالاتو پوښتنه وشي » ابولهب ورته غږ وکړ : « وراره دلته راشه ، ووایه چې په بدرکښې څه تیرشول ؟ » ابوسفیان بن حارث وویل : « والله موږ د مسلمانانو په مقابل کښې داسې بیوسې وو لکه څنګه چې مړی د غسال (لمبوونکی) په لاس کښې بیوسی وي ، ځینې یې له تیغه تیرکړل اوځینې یې بندیان ونیول . یوعجیب منظر مودا ولیده چې په برګو اسونو باندې سپاره سپینې جامې په تن خلګو داسې ګوزارونه کول چې موږ توبل یې وکړپلو ، نه پوهیږم چې دوی څوك وو ؟ »

ابورافع سمدلاسه وویل : « هغه پرښتې دي »

ددې خبرې په اوریده سره په ابولهب باندې اوربل شو اود ابورافع پرمخ یې د څپیړې ډیر سخت ګوزارونکړ بیا وروسته یې پرځمکه راوغورځاوه او دهغه په وهلویې شروع وکړه ، په دې صحنه کښې یوه ښځه موجوده وه ، هغې دا د ظلم اوبیرحمۍ حالت ونشو زغملای ، راپاڅیدله یولرګی یې راواخیست او له سوال اوځواب نه پرته یې د ابولهب پرسر دومره قوی وار وکړ چې دهغه له سرنه وینو فوارې وکړې اوبیایې د غوسې نه په ډکه لهجه وویل : « بې حیا ! ته نه شرمیږې چې دده په وهلو دې لاس پورې کړی دی تادئ له دې امله کمزوری ګڼلئ دئ چې دده بادار دلته نشته . ابولهب ونشو کړای چې ددغې ښځې په مقابل کښې ودریږي له دې امله خپل غوږونه یې کاږه واچول اودخپل کورخوانه روان شو .

داغیرتي بي بي چې دابولهب په څیر د اسلام سرسخت دښمن یې پرککړی وواهه او په رسوائۍ سره یې له هغه ځایه وشاړه څوك وه ؟ دا دحضرت عباس (رض) ښځه حضرت لبابة الکبری وه .

حضرت لبابه بنت حارث چې په تاریخ کښې په خپل کنیت ام الفضل سره مشهوره ده په ډیرو جلیل القدرو صحابیاتو کښې حسابیږي . کبری دهغې لقب دئ ، له دې امله سیرت لیکونکو دهغې نوم لبابة الکبری هم لیکلئ دئ ، د بنو هلال کورنۍ ته منسوبه وه اونسب لړی داده :

ام الفضل لبابة بن حارث بن حزن بن بجیر بن الحرام بن رویبه بن عبدالله بن هلال بن عامر بن صعصعه ، د مورنوم یې هند بنت عوف ؤاودبنوکنانه له کورنۍ څخه وه .

دحضرت ام الفضل واده درسول الله صلی الله علیه وسلم له تره عباس بن عبدالمطلب سره وشو . نوله یوې خوا د پیغمبر صلی الله علیه وسلم تینداروه اوبل له دې کبله چې د حضرت میمونې بنت حارث رضی الله تعالی عنها سکنی خوروه نو درسول کریم علیه افضل التحیة والتسلیم خښینه وه .

دحضرت ام الفضل یوه اضیافي خور حضرت اسماء بنت عمیس درسول اکرم صلی الله علیه وسلم دتره زوی حضرت جعفربن ابي طالب رضی الله تعالی عنه میرمن اویوه بله خوریې حضرت سلمی د پیغمبر صلی الله علیه وسلم دتره حضرت حمزه سیدالشهداء میرمن وه .

په ښځوکښې ترټولو مخکښې حضرت خدیجة الکبری رضی الله تعالی عنها دایمان د خزانې مالکه شوی وه ، له هغې نه وروسته دمعتبرو روایتونو له مخې حضرت ام الفضل لبابه رضی الله تعالی عنها ته دغه سترنعمت وریه برخه شو . په دې ترتیب هغه دالسابقون الاولون څخه ده .

حضرت ام الفضل د خپل میړه حضرت عباس بن عبدالمطلب له علنې اسلام راوړلونه وروسته مدینې منورې ته هجرت وکړ . ددې هجرت نیټه دمکې له فتحې نه لږ دمخه وه .

حضرت ام الفضل رضی الله تعالی عنها ډیره غیرتي ، زړه وره ، پرهیزګاره اوعابده وه ، په ګینوروایتونوکښې راغلي دي چې په هره هفته کښې به یې دوه ورځې – دوشنبه اوپنجشنبه – په پوره التزام سره روژه نیوله . رسول الله صلی الله علیه وسلم به فرمایل : « ام الفضل ، میمونه ، سلمی اواسماء څلور وارې مسلماني خویندي دي .

حضرت ام الفضل یوځل خوب ولیده چې درسول الله صلی الله علیه وسلم د مبارك جسد یوه ټوټه دهغې په کورکښې ده ، کله چې یې خپل خوب رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ووایه نو هغه وفرمایل : « ددې خوب تعبیر داسې دئ چې الله تعالی به زمالور فاطمې ته زوی ورکړي اوته به هغه ته خپلې شیدې ورکړې »

څه موده وروسته دحضرت فاطمې زوی حضرت حسین رضی الله تعالی عنه پیداشو اوحضرت ام الفضل هغه ته خپلې شیدې ورکړې اودهغه کفالت یې پرغاړه واخیست . له دې امله ټولې نبوي کورنۍ دحضرت ام الفضل رضی الله تعالی عنها خاص احترام کاوه .

حضرت ام الفضل رضی الله تعالی عنها د حجة الوداع په سفرکښې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ملګرې وه . دغه حقپالونکې بي بي دحضرت عثمان رضی الله تعالی عنه دخلافت په زمانه کښې وفات شوه اودجنازې لمونځ یې په خپله امیرالمؤمنین اداکړ .

دهغې اوه اولادونه وو شپږ زامن فضل ، عبدالله ، عبیدالله ، معبد ، قثم ، عبدالرحمن اویوه لورام حبیبه . ټول اولادونه یې دعلم اوفضیلت په کاڼو سینګارو په تیره بیا عبدالله بن عباس اوعبیدالله بن عباس خو ددې امت ستنې دي .

له حضرت ام الفضل نه دیرش حدیثونه روایت شوی دی . دهغې په روایت کوونکوکښې د حبر الامت حضرت عبدالله بن عباس اوحضرت انس بن مالك غوندې جلیل القدر صحابه شامل دي .

(رضی الله تعالی عنها)

طواغیت همیشه درکمین اسلام اند

ابوذر

خداوند(ج) درسوره توبه درآیه ۲۳ مي فرماید «اي مؤمنان مگیرید پدران خود وبردران خود را دوستان اگر بپذیرند کفر را برایمان هرکه دوست گیرد ایشانرا ازشما پس وي ازجمله ایشان است » درینجا منطق وحي آسماني ازجانب پروردگار عالمیان ندامي کند که اي صاحبان ایمان واي کسانیکه اقراروتصدیق کردید که لااله الا الله ، برنامه زندگي شما ست چشمان خودرا بازکنید ، بابصیرت کامل حقایق وجریانات رابررسي نمائید ، فریب دشمنان اسلام رانخورید ازکیدومکرشان خود را نگهدارید برشما شایسته ولازم نیست که دوستي ومحبت باکساني داشته باشید که دشمنان عقیده ، فکر واندیشه شما هستند وکفر رابراسلام ترجیح دادند وآنرا پذیرفتند . بابرنامه الهي مخالفت میدارند تلاش هاي وسیع وگسترده اي را براه مي اندازند تادرین انحراف وظلم خود ، دیگران رانیز گرفتار نمائید . آنهابالهام ازشیاطین انسي وجني درپي آنند که روابط عقیده وایمان رادربین مؤمنین ضعیف بسازند تاتوانسته باشند آنها راازدائره وخط اساسي وبنیادي شان به بیراه بکشند وبطرف لجن زار متعفن خود واره نمایند .

ازهمین روست که قرآن مجید ،مسلمانان رامتوجه حساسیت این موضوع گردانیده وبراي شان هوشدارمیدهد که ، گفت وشنودي که درعقیده ومسلمان تزلزل را ایجاد میدارد ورابطه وقراري را بادشمنان اسلام که به حکم جاهلیت طاغوت تسلیم اند وبنده هاي مظلوم رانیز درمحور طواغیت مي چرخانند ، برقرارندارند وازآن پرهیزنمایند

واگر چنین خطاء وسهوي ازمسلمان صورت گرفته و صداي محبت ودوستي رابا دشمن اسلام وامت اسلامي بلند ساخت وباکسي ارتباط وعلائق راقایم ساخت که ازحق انکار مي ورزد ، درحکم خداوندي تصرف میدارد ، حلال راحرام وحرام راحلال مي سازد ، بعد ازآنکه مشرف به ایمان شد ازآن برگشت میدارد بعد ازآنکه نور هدایت اسلامي را احساس کرد وبه آن دست بافت به گمراهي وضلالت رو میآورد آنوقت براي چنین شخص زنگ خطر بصدا درمیآید ، ندای ضمیر ووجدانش وي را محکوم میدارد وباید بداند که تاوان بس بزرگي را بدوش کشیده است وامانت عظیم را ضایع ساخته است .

ازهمین جاست که خداوند برمسلمانان خطاب مي کند که دوست نگیرند وارتباط قایم ندارد باکسیکه دشمن الله ومسلمانان است واگر چنین امري انجام یافت بایدبدانند که درمخالفت از امر خدا(ج) قرارگرفته است وبه سبب این عمل خود ومصیبت وآفت راپدنبال خواهد کشید که تنها این مصیبت وآفت به اومختص نگردیده بلکه آنعده مردمان صالح و دعوتگرراکه مانع چنین کارمنکر نشدند ومسلمان رامتوجه سهو، وخطایش نساختند ودست وي راازچنین کاري ناجائز بازنگرفتند ، نیز دربر خواهد گرفت مال ومتاع دنیا واین یاران ودوستان ، هیچ کدام فیصله خداوندي را درموردش متوقف ساخته نمیتواند . پس واجب است بربرادران داعي ما که توجه جدي درارتباطات خود داشته وجلو قایم شدن روابط علایق ، محبت ودوستي رابا دشمنان اسلام وکسانیکه دراجتماع اسلامي ازاسلام برگشت کردند گرفته تانشود خداي ناخواسته بایك حرکت نسنجش که درقاموس شریعت اسلامي برایش جاي وجود ندارد خساره بزرگ دنیا وآخرت رامتحمل شویم . خداوند (ج) درسوره الممتحنه درآیه (۱۲) به حضرت محمد (ص) خطاب نموده مي فرماید : (ونافرماني نکنند ترادرکارنیك)

که این نص قرآني دربرگیرنده حکم اطاعت ازرسول (ص) است درهرچیزیکه امر میکند و امر نمیکند مگر درکارهاي نیك (معروف) واین شرط که اطاعت باید درکارهاي نیك ومعروف صورت بگیرد یکي ازقواعد ودستور اساسي اسلام است وثابت مینماید که اطاعت رعیت برامام و حاکم مسلمان نیست مگردرمعروف که موافق بادین خدا(ج) وشریعت اوباشد ومطلق اطاعت از ولي الامر درهمه، امور وجود ندارد . درینجا قاعده اساسي شریعت الهي است که همه، امور ماازآن گرفته شده ومطابق به آن روان کرده شده است نه به اراده امام وحاکم واراده مردم ، وزمانیکه اراده امام ، حاکم ومردم درمخالفت ازشریعت الله قرارگیرد وآن وقت امام ، حاکم ومردم محکوم به شریعت الله مي باشند . لذا روي این قاعده ودستور اسلامي برهرزمامدار وحاکم وامیر لازم است درچوکات شریعت ودرحدود شریعت اسلامي رفتارنماید وهرگاهیکه ازآن فاصله گرفت درآن وقت حق اطاعت ازوي سلب مي شود .

امت اسلامي در طول تاریخ دعوت خویش باصفت ایمان ومحبت باالله ودستان آن متمایز گردیده است ارتباط در بین این امت توحیدي فقط برمبناي عقیده استوار است ودوروائي عقیده ، شریعت وحکم خداوندي (ج) کدام اصول وضوابط دیگري وجود ندارد که خط زندگي وپروگرام آن را براي مسلمان ترسیم بدارد

برادران مسلمان اخداوند زمین رابراي بندگان مخلص وعباد الصالحین به ارث گذاشته است تابشریت راکه درروي زمین زیست دارند دردایره حاکمیت الله قراربدهند . این وظیفه تمام انبیاي کرام ومسلمانان مؤمن وبادرك درطول زمانها وقرنها بوده است ایشان مأمور ساخته شدند تاحاکمیت دین الله را درروي زمین تثبیت بدارند وازهمان آغاز زندگي بشر که فقط به انحراف رو آورد ودوبرنامه ازهمه جدا ومتضاد بمقابل هم قرارداشتند . که یکي برنامه الهي وربانی است که تمام انبیاي کرام (ع) وپیروان راستین ومخلص آنها ، داعي آن بوده وتسلیم بدون قید وشرط برآن دعوت بودند ومطابق اصول وپروگرام آن حرکت مي کردند ، وبرنامه دومي ازجاهلیت است که درطول قرون به صور واشکال مختلف تبارزنموده است اما همه، آنها یك هدف ومرام داشتند وآن دورشدن ازبرنامه خداوندي ومخالفت باآن بود وهمه، شان دوستان ویاران شیطان بودند وبآن دریك طریق همگان وهمسفر بودند جهت سومي وجود نداشت .

درشرایط فعلي تمام مکتب ها ، مسلك ها ، روش ها ونظام ها وحکومت هایکه درمخالفت خداورسول آن قرارداشته وبابرنامه وپروگرام الهي منافات دارند

ص ۳

استعمار اونړیوال تبلیغاتي وسایل

دنړۍ دتبلیغاتي سیستمونو اود ښکیلاکګرو د فرهنگي جګړې د عملي کېدلارو خپرول اود نړۍ د هیوادونو بالخصوص اسلامي هیوادونو په مقابل کښې د اوږدیخ اوختیځ د تولیزو ارتباطي وسایلو د توطئو سره اشنا کېدل اود صهیونستانو تبلیغاتي سیاست اوداوږدیځ تولیزو اژانسونوته په څیرسره کتل د اهمیت نه یوه ډکه موضوع ده . ددې له پاره چې وکولای شو د استعمارګرانو دغه نقشې چې داسلامي اوعربي نړۍ هیوادوله پاره یې طرحه کړې دي ښې وڅیړو اوددغوتبلیغاتي سیستمونو په اهدافوځان پوه کړو لومړی د تبلیغاتو تاریخ ته یوه لنډه کتنه کوواوبیا داستعمارګرانو تبلیغاتي وسایل څیړو :

د تبلیغاتو تاریخ ته یوه کتنه

دیوه مستقل بنیاد په توګه دتبلیغاتو تاریخ په خوارلسمه پیړۍ کښې دچینیانو په لاس دلومړي چاپخې دمینځ ته راتلو سره سم پیل کېږي . ددغه چاپخې اهمیت له دې امله دی چې ددې موجب شوچې په شپاړسمه پیړۍ کښې دتبلیغاتو لومړۍ وسیله ، یعنې په ایټالیا کښې د « جازیت » په نامه ورځپانه مینځ ته راغله .

سره له دې چې دغه ورځپانه دورځپانه لیکنې ، دمحتوی دشمیر او اطلاعاتي مضامینو له نظره نسبت اوسنیو ورځپانو ته ډیره ساده او ابتدایي وه خود مطبوعاتو په تکامل اوپرمختګ کښې له اهمیت نه ډك اقدام ګڼل کیدای شي . یو شمیر کسان په دې عقیده دي چې « ممالیك » پاچایان لومړني کسان وو چې دورځپانه لیکنې فکریې مینځ ته راوړ ځکه دخبرونو لیکلې پاڼې به یې دماني په دیوالونو اوحکومتي مؤسسو سرپښولې چې په هغو کښې به دحکومتي طرحو ، خبرونو ، پیښو او دمسئولینو دکارونو یادونه شوې وه . ورځپانه دخلکو پرفکرونو داغیزې کولو په خاطر له یوې نیمې پیړۍ څخه په زیاتې مودې کښې یواځې دیوه خطرناك او نافذ امر په توګه دهغه وخت دواکمنانو دسیاستونو دلوړیني دره وه .

داتلسمې پیړۍ دواکمنانو او حاکمانو اعترافونه ددغې تبلیغي وسیلې په اهمیت دلالت کوي . دفرانسې له امپراطوره ناپلئون ، نه حکایت کوي چې د ۱۷۹٦ میلادي کال دکودتاله بریالیتوب نه وروسته یې وویل : که مطبوعات په خپل حال پریږدم نو له درې میاشتونه به زیات دحکومت په ګدۍ پاتې نشم . او یوبل ځل یې دهغه تبلیغاتي شوراوځون په هکله چې دهغه دسیاست په اړه یې لاره اچول شوی ؤ وویل : زه دزروټوپکو په نسبت له درې مخالفو ورځپانو نه ډیر ویریږم . دنولسمې پیړۍ په لومړیو کښې دتلګراف دستګاه اختراع شوه او دهغې کار له غږونه له ګڼې اخیستلو پرته دپیغام لیږل ؤ او دغې وسیلې په وروستیو کلونو کښې دتبلیغاتو دپرمختګ او تکامل له پاره لاره هواره کړه . دتلګراف ددستګاه له اختراع نه وروسته په ۱۸٤۸ میلادي کال کښې د « اسوشیتد پرس » اژانس خپل فعالیت پیل کړ . موږ په دامریکا دناولو تبلیغاتي دستګاوو څخه دیردې پورته کولو په ترڅ کښې ددغه اژانس اودعمومي افکارو په هکله دهغه دبیلادې کوونکي رول په هکله خبرې وکړو . لکه چې په ۱۸٤۹ میلادي کال کښې دالمان « وولف » اژانس هم مینځ ته راغی چې دهغه عملیاتي ډګر په المان کښې دنازیانو دحکومت ترظهور پورې محدود ؤ . دغه اژانس وکولای شول چې داروپا عمومي افکار دالمان دعسکرو داستقبال له پاره مهیا اوتیارکړي .

له نولسمې پیړۍ څخه وروسته دروحي جنګ شعارونه او خبرونې هم دتبلیغاتي مظاهرو یو مظهروګڼل شو . په ۱۸۵٦ میلادي کال کښې دارتباط شبکه دفرانسې او انګلستان دوروبین په وسیله ټینګه شوه چې له هغې بیاد « رویټر » خبري اژانس ورتیوید . دغه اژانس وکولای شو دیوې اوږدې مودې له پاره دنړۍ دتبلیغاتي واکمنې په څوکې باندې ددوهې اوږدیالي شو چې دنولسمې پیړۍ په ټولورواتو سیاسي چارو او پیښو باندې اغیزه واچوي . المانې ورځپانې « برلینتزا ګیلات » دغې ورځپانې په هکله وویل : د « رویټر » ورځپانه له هرې بلې پردې جنګي بیړۍ نه ډیره خطرناکه ده .

ددغه اژانس په اهمیت اوخطرناك موقعیت باندې به هغه وخت پوه شوچې دنړۍ په مختلفو هیوادونوباندې دانګلیس داستعمار له واکمنۍ او تسلط سره اشناشو . دهغو عواملو له جملې څخه چې په نړۍ کښې دانګلستان غوندې ځواك مینځ ته راوړي ، مختلف تبلیغاتي وسایل او مؤسسې دي چې دهغه په سرکښې د « رویټر » خبري اژانس ځای درلود . په ۱۸۹۵ میلادي کال کښې یوه بله نوې تبلیغاتي وسیله چې په عمومي افکارو یې زیاته اغیزه درلوده مینځ ته راغله . دغه وسیله چې دفلم د یوه ساده شکل په توګه فرانسه کښې ظاهره شوه « سینماء » نومیده . وروسته دغه تبلیغاتي وسیله پرمختللې او بشپړه شوه ترڅو چې دخپل ځان له پاره یې په لویو او مهمو تبلیغاتي دګروتو کښې ځای پرانیست . په شلمې پیړۍ کښې تبلیغاتي وسایل خپل وروستي پیچلتوب اوظرافت ته ورسیدل .

دغه تطوردتیلي پرنتر « Tele ، Printer » له دستګاه نه پیل شو چې په بې سیمه طریقه به یې کلمې دلیکنو په دول لیږدولې . ترهغه چې دلیږدولو سرعت یې یوه داسې حدته ورسید چې ، ۱۲۰ کلمې به یې په یوه دقیقه کښې ، الکترونیکي حسابونو او

ص ۳

وا اسلاما

ترجمه : عبدالحق و عتيده

عزم حركت صالح ايوب بسوي شام ، قوت يافت ، وبرخوف وهراس صالح اسماعيل افزود . بنابرين قبل ازآنكه پادشاه مصركشورش رامورد حمله قرادهد ، تصميم حمله به مصر را اتخاذ كرد ، لذا به امراء حمص وحلب نامه فرستاد ، ودران ازايشان خواستار كمك گرديد ، وهم چنان نامهء ديگري به انگليس ها ارسال نمود ، وازايشان خواهان پشتيباني ودفاع گرديد ، آنها باوي جواب مثبت داده ، ووعده نمودند كه همگام باوي به جنگ سلطان مصر خواهند رفت ، ودربرابراين كمك ، دوقلعهء بزرگ ، صفد ، وشقيف واطراف آن ، وصيدا ، وطبريه ونواحي آن ، وساير مناطق ساحلي را به انگليس ها بخشيد . اوبه اين قدرهم اكتفاء نكرد ، حتي به اين دشمنان اجازه داد كه داخل خاك دمشق شوند ، واسلحه وابزار جنگي را ازاهل دمشق خريداري كنند ، شيخ ابن عبدالسلام به اين خطر بزرگ كه كيان كشوراسلامي راتهديد مي كرد پي برد ، لذا نامهء عاجل وشديد اللحن راعنوان صالح ايوب فرستاد ودران ازوي مطالبه نمود كه هرچه زودتر به جهاد اقدام كند ، وخاطرنشان ساخت كه اگر چنين نكند ، ودر اين امرتهاون وسستي نمايد ، غضب وانتقام وعذاب خداوند به سروقتش خواهد رسيد ، وعذاب خداتوسط دشمنان برسراونازل خواهد شد . وتاكيد گذاشت كه اگر در انجام اين فريضه تاخير نمايد ، مسئوليت آن به دوش خود وي خواهد بود ، وازان بيم داد كه درصورت تاخير دراين امر ، پادشاهي وسلطنتش نيز از هم خواهد پاشيد ، وجزائي دنيا وآخرت نصيبش خواهد گرديد . بعداً خود به تشويق اتباع وطرفداران وانصارش شروع كرد كه خودرا براي اداي فريضه جهاد درراه آزادي ميهن ، آماده سازند ، اوهمه اين كارها را خفيه انجام ميداد ، تاآنكه روز جمعه فرارسيد ، ومسجد جامع از نماز گذاران پرشد ، شيخ ابن عبدالسلام ازدروازه كه خاص خطيب بود داخل مسجد گرديد ، وبرمنبر بالاشد ، چشم ها بسوي اودوخته شد ، وگردن هاي بسوي او بلند گرديد ، سكوت وخاموشي عميق مردم را فراگرفته بود ، سپس شيخ حمد وثناء خدا به جا آورد ، ودرود وصلوات بررسول خدا تقديم نمود ، بعد ياد ازجهاد وفضيلت آن نمود وبيان داشت كه رسول خدا و يارانش چطور با مشركين جهاد نمودند تاآنكه كلمهء خداوند برتري يافت ودعوت اسلام درشرق وغرب همه گير شد ، وخداوند كشورها را ازان مسلمانان ساخت ، وآنها راتازمانيكه درراه خدا ، ودين او ثابت قدم بودند ، خلفاء روي زمين گردانيد ، وچون وقتيكه درنفس هاي خود تغير آوردند ، خداوند در حال آنها تغير آورد ، ودشمن را بر سرزمين آنها مسلط ساخت ، تا آنكه دست وپاي شان رابسته كردند ، ودارائيهاي شان را تاراج نمودند ، واهل آن را باذلت ورسوائي دچار ساخت . وآنها رابه انواع عذابهاي مبتلاء نمود ، اين همه ابتلاء وآزمايش خداست ، تاآنكه كسي راكه از حق روي گرداند هلاك سازد ، وزنده سازد آنكسي راكه به حق روي آورد ، وآخر اين امت اصلاح را نخواهد يافت ، مگر به آنچه كه اول اين امت اصلاح خودرادران يافته است ، واول اين امت اصلاح خود درجهاد يافته بود ، وبعد ايشان رابه وجيبه اطاعت از اولو الامر ايشان ، متوجه ساخت تاامور معاش وميعادشان برابر شود ، واولوالامر رابه فريضه اداي نصيحت براي اسلام واهل آن ، ودفاع ازمرزهاي اسلامي تاكيد نمود ، تادر سايه آن ايمان وعقيده ، آبروحيثيت ، مال وزندگي شان ، درامن بماند ، وهرپادشاه واولوالامريكه درامر حفاظت ونگهداشت كشورمسلمانان ، تهاون نموده ، وآبرو وحيثيت آنان زير پاي كفار ساخته چنين شخصي درنزد خداومسلمانان ، حق هيچ نوع اطاعت نداشته وبدست خود اطاعت خويش ازذمهء آنها خلاص ، وبه حق خود ظلم رواداشته است ، و درچنين فرصتي بر مسلمانان لازم مي آيد تابا گرفتن دست او ازظلم ، به اوياري دهند ، همانطوريكه برآنها لازم است كه دروقت مظلوميت اورا ياري رسانند - كمك به ظالم همانا گرفتن دست او ازظلم است ، وحايل واقع شدن درميان او ، وآنچه كه ميخواهد آن راتباه سازد ، وكشورشان را ازدست دهد ، وشوكت شان رازبين برد ، ودشمن را بگرده خود مسلط سازند ، وبه آنها فرصت دهند تاعزت اسلام را ازدلهاي شان بردارد ، از وجيبهء ايشان است كه آنها را ازين كار منع سازند ودست آنها بگيرند .

سپس اين قول خداوند را تلاوت نمود : وأعدوا لهم مااستطعتم من قوة ومن رباط الخيل ترهبون به عدوالله وعدوكم وآخرين من دونهم لاتعلمونهم الله يعلمهم وماتنفقوا من شيء في سبيل الله يوف اليكم وأنتم لاتظلمون «وبراي شان ضرورت تهيه اسلحه وابزار جنگي راكه خداوند برايشان فرض گردانيده است ، ونگهداشت اسپها واسطولهاي بحري وسائر وسايل را كه درجنگ رول عمده دارد ضروري شمرد ، تامصداق اين فرموده الله راكه گفته است «ولله العزة ولرسوله وللمؤمنين» تحقق بخشند ، ودرپايان وخلاصهء مرعظه اش ، به اين نكته تاكيد گذاشت كه فروش سلاح به دشمن ، بدون استثناء ، قطعاً حرام ونارواست

وآنگاه علماء سوء راكه به ناحق به مردم فتواي باطل ميدهند واحكام خدارا تحريف ميدارند ، وآيات خدارا دربرابر متاع ناچيز دنيا به فروش مي رسانند ، واز اظهار كلمهء حق دربرابر پادشاهان خائن مي ترسند ، وازخداوند هراس ندارند ، سخت مورد نكوهش قراردارد وگفت : «هرآن مسلمانيكه براي دشمن سلاح فروخته است ، ويادر معامله فروش آن به نحوي ازانحاء سهم گرفته ، درحقيقت به خدا وپيامبر ومسلمانان خيانت نموده است ، وسپس اين آيه را خواند « ومن يتولهم منكم فانه منهم » اين آيه را سه بار تكرار نمود وبعد بنشست .

وچون به خطبهء دوم شروع كرد ، ازخداوند خواست كه اسلام ومسلمانان راعزت نصيب فرمايد ، وهرآن كسي راكه دربقاء او مصلحت براي اسلام ومسلمانان نهفته است ، ياري دهد ، وعادتش اين بود كه درپايان خطبه به دوام سلطنت صالح اسماعيل دعامي كرد ، امادرين جمعه نامي ازو نبرد وتنها به دعا براي كسيكه كلمه اسلام را برافرازد ودين خدا را ياري دهد اكتفاء كرد

